# د پټې خزانې په لاس کښلې نسخه

## کې د ځینو کلونو تصحیح

د محمد هوتک د پټې خزانې یوه په لاس کښلې نسخه تر اوسه پیدا سوې وه، له بده مرغه د بلې نسخې درک نه لرو، چې د هغې په مرسته دغه لاسته راغلې نسخه سمه کو او یو انتقادي سم کړئ متن ځیني جوړ کو.

د داسي کتابو د ترتیب او چاپولو علمي لار دا ده، چې مرتب څو مختلفي خطي نسخې سره پرتله کوي، او له ګردو څخه داسي یو متن جوړوي، چې اصل او واقعیت ته نژدې وي، او که له مؤلفه څخه کومه سهوه سوې وي، هغه هم ښیي.

(۴۰) کاله پخوا چې ما پټه خزانه ومونده، او چاپ مي کړه، زما کار تش په دغه یوه لاس کښلې نسخه ولاړ وُ چې وروسته ئې عکس کټ مټ په (۱۳۵۴ ش) کال په کابل کښي چاپ او خپور سو، او اصلي خطي نسخه د آرشیف په خطي کتابو کښي پرته ده.

هغه وخت ما د دې خطي متن ځیني لغوي خواوي وڅېړلې، او ځیني تاریخي پلوونه مي روښانه کړل، خو وروسته دې کتاب په داخل او دباندي کښي داسي یوه هنګامه واچوله، چې د مینانو او ښاغلو په قول د پښتو یو سپېڅلی کتاب او د مخالفانو په نغوته یو "مجعول" اثر وګڼل سو. زه د مینانو د میني او د شکاکانو د بې ځایه خبرو او تورونو دواړو پر خوا نه یم، تول شیان باید چې پر علمي

محک ووهل سي، او هره شخړه چي وي د پوهې او بصيرت په رڼا کښي اواربداى سي. په دنيا کښي داسي کتاب نسته، چي څوک اعتراض پر ونکړاى سي، او تاريخي کتابونه او تذکرې خو ډيرې تېروتني او خطاوې هم لري، مګر د يو څو اشتباهاتو په کړنه ، څوک ګرده کتاب نه غورځوي، او مؤلف ته ئې ښکنځل نه کوي.

دلته به د خپل اصلي مطلب دمخه زه دري کتابونه د مثال په توګه دروښيم، چي د ډيرو غلطيو سره هم د اعتبار وړ ګڼل کيږي، خو سترګه ور څېړونکي ئې تش هغه د اعتراض وړ خبري پڅپلو څېړنو کښي نه را اخلي، او د واقعاتو سره سم اړخ ئې راوړاندي کوي، او ګرده کتاب په يو څو املاوي يا د کاتب په خطاوو نه کړي.

(۱) د فارسي ادب يو خورا منلى فصيح او غوره کتاب د احمد بن علي نظامي عروضي سمرقندي "چهارمقاله" ده چي د شپږم قرن په منځ کښي ئې د غوريانو په دربار کښي کښلې ده، محمد قزويني يو ايراني محقق وايي : چي عروضي خو د خپل ګرده فضل او ادبه سره، په دغه کتاب کښي خورا ډيري غلطي کړي دي، د مشهورو خلکو نومونه ئې سره ګډ وډ کړي. او کلونه ئې هم يا دمخه او يا را وروسته کړي او واقعات ئې سره مروړلي دي.

دغه نقاد څېړونکي په يوه ځاى کښي د نظامي اولس غلطي د مثال په توګه راوړي. او بل ځاى تش په دوو ليکو کښي د ده شپږ تېروتني رابرسيره کوي. (ص ۲۲۷) مثلاً : نظامي مشهور طبيب محمد بن ذکريا رازي د منصور بن نوح ساماني پاچا معاصر ګڼي، حال دا چي دغه طبيب لږ تر لږه دېرش کاله د منصور تر جلوس دمخه وفات سوئ و. (ص ۱۰۴) د سمرقندى نظامى د دغو ګردو غلطيو سره چي د مجتبى مينوى په قول تر دوو سوو زياتي دي هم چهار مقاله تر اوسه د دري ادب يو غوره کتاب دئ، او هيچا ګرده نه دئ کړلئ، خو محققان ئې تش په غلطو رواياتو استناد نه کوي.



(۲) د دري ژبي تر ټولو پخواني معلومه تذکره خو د محمد عوفي لباب الالباب ده، چي په اروپا او ايران کښي څو واره چاپ سوې او د دري ادب يوه غوره لرغونې پانګه پکښي خوندي ده، چي ګرده د ادبياتو د تاريخ ليکوال دغه کتاب ته حواله ورکوي او معتبر ماخذ ئې ګڼي.

مګر په دغه معتبر کتاب کښي هم څېړونکي د خداى کوټه غلطي ميندلي دي مثلاً د آل زيار شهزاده امير ـ کيکاوس د اسکندر زوى او د قابوس لمسى وُ، خو عوفي هغه د قابوس زوى ګڼلى دئ، بل ځاى ئې د سامانيانو د نو تنو پاچهانو زمانه (۸۷) کاله ښوولې ده، حال دا چي دوي ګرده يو سل او اولس کاله پاچهان وه (له اسماعليه تر دوهم منصوره (۲۶۱ ـ ۳۸۹ هـ) او که ګرده وشمېرو نو ئې حکمراني تر (۱۳۰) کالو پوري هم رسيږي.

(۳) تر عوفي وروسته د دري ژبي بله معتبره تذکره د دولت شاه ده، چي ملک الشعراء بهار په دريم ټوک سبک شناسي (ص ۱۸۶) کښي د ده ډيري غلطي شميري. او زه ئې د مثال په توګه دلته يو دوې راوړم: ده د ويس ورامين مشهور دری داستان چي فخرالدين اسعد ګرګاني د (۴۴۷ هجري) په شاوخوا کښي نظم کړئ وُ کله د نظامي عروضي او کله د نظامي ګنجوي بللئ دئ، او هم ئې ناصر خسرو چي له خپله قوله قباديانى بيا بلخي دئ، اصفهانى ګڼلئ او هغه ئې له يوه بله اصفهاني ناصر خسرو سره ګډ کړئ دئ، کوم چي په (۷۳۵ هـ) مړ او د سعادتنامې خاوند دئ. (سبک شناسي ۳ ص ۱۸۶)

تاسي وګورئ په دغو معتبرو درو تذکرو کښي دغسي تېروتني سته مګر دغه کتابونه تر اوسه لا هم د پوهانو او څېړونکو مرجع دي، خو دوني کوي چي ځيني سهوي او مشتبه اقوال ئې نه اخلي. پټه خزانه هم د دغسي يوه مؤلف اثر دئ، چي هرو مرو به خطا لري، تېروزي به. او له تېروتني څخه به پاک او معصوم انسان هم نه وي.

نو که د پټې خزانې ځيني خبر له عقله يا مستندو رواياتو سره سمې نه وي، يا وروسته کاتبانو سره مروړلي او ګربشولي کړي وي، بايد چې سترګه ور ليکوال ئې په ټينګو او د منلو وړ دلايلو سره را څرګند کړي، نه دا چې د يوه کاذب شهرت په هوس يا په خاص تعصب ګرده کتاب مجعول وبولي.

په دې مقاله کښې زه د پټې خزانې ددغي اوسنۍ پيدا سوي او عکسي چاپ سوي نسخې، يو څو تاريخ تاکنو ته چې ورځ او د مياشتو نېټه ئې نه سره سميږئ کره کتنه کوم. او زما ټينګ ګمان دا دئ، چې دغه ناسمون دکاتبانو د بې باکۍ څخه په دغه نسخه کښې پېښ سوئ دئ، او ښايي چې په خپله به په محمد هوتک اړه نه لري، او که د دې کتاب کومه بله خطي نسخه پيدا سي، ښايي چې دا غلطي به سمه کړي.

محمد هوتک د خپل کتاب د څلورم مخ په اومه ليکه کښې وايي : "په دغه کتاب چي ما په کښلو ابتدا وکا ورځ وه د جمعه ۱۶ د جمادی الثانی سنه ۱۱۴۱ هجري."

دلته که موږ ښه ځير سو په تطبيقي تقويمونو کښې چي ووستنفلد اوبياو، وزيبولسکی (طبع مسکو ۱۹۶۴ ع) راوړي دي، دا ۱۱۴۱ هـ کال د اوسترۍ خور لومړۍ ورځ يکشنبې ده چې شپاړسمه ئې په دوشنبې وه نه جمعه، او دا خو ښکاره غلطي ده.

دلته زما يقين دئ، چي په کتابت کښې يو عدد زيات سوئ دئ، ځکه چې د دغې مياشتې لومړۍ جمعه د جمادی الاخرى شپږمه ده، او دغه شپږمه کاتب د يوه هندسي عدد په زياتولو شپاړس کړې ده (۶ + ۱؟) چې بايد د پوهانو له خوا تصحيح سي ځکه چې په هندسي اعدادو کښې کله دغسې غلطۍ پېښيږي، او پخوا به اتياتي مؤلفانو د کلونو او ورځو اعداد په اصلي نومو کښله، او له اشکالو څخه به ئې ځان ژغوره، چې بيا احتمال د دغسې کرغېړنو نه وي.



دا زما حدس به ځکه سم وي چې د کتاب په پای کښې ئې د ختم نېټه د جمعې ورځ ۲۴ د شوال سنه ۱۱۴۲ هـ (ص ۱۱۱) کښلې ده او که موږ دغه تطبيقي تقويم ته وګورو، نو په دغه کال د شوال لومړۍ ورځ شنبې او څلرويشتمه ئې جمعه ده. (ص ۹۷ زيبولسکی) چي دغه تاريخ بيا صحيح رانقل سوئ او د کاتب له ظالمه قلمه ژغورل سوئ دئ.

نو که د کاتب په يوې تېروتنې سره، سرې پخپله محمدهوتک ګناهکاروي او د ده ګرده کتاب ته په شک ګوري، دا خو به هرو مرو د يوه خاص نظر او غرض نتيجه وي، او داسې کار د کوم عالم او پوه چا سره نه ښايي.

يوه بله نېټه چې په پټه خزانه کښې د غور وړه ده، او لومړی پلا د پېښور ښاغلي محقق دوست محمد کامل رابرسېره کړې ده، د رحمان بابا د وفات کال (۱۱۱۸ هـ) دئ او هغه دلايل چې ښاغلي کامل ئې پر ناسموالي ويلي دي ټول صحيح او د منلو وړ دي، او بايد چې په متن کښې تصحيح سي او د ادبياتو تاريخ هم د رحمان بابا وفات دغه (۱۱۱۸ هـ) کال ونه ګڼي، ځکه چې په دغو اعداو کښې هم د کاتب سهوه ده او دوه ئې د يوه په شکل کښلي دي، چې صحيحه نېټه ئې (۱۱۲۸ هـ) ده او ددغې نېټې د صحت دلايل او سند به ښاغلي پوهاند رشاد تاسي ته وړاندي کړي. (۱)

(۱) د محمد هوتک ياد، ۱۳۶۰ لمريز کال، ۱ ـ ۵ مخونه